**لغمان:**

د مهترلام ښار اړوند د ده زيات ۱۰۰ متره پُل ترميمول، چې د بيارغونې چارې يې د څه باندې ۵,۴ ميليونه افغانيو په ارزښت له يوه خصوصي شرکت سره قرارداد شوې وې، چې تر دا مهال يې کار ۹۵ سلنه بشپړ شوی دی.

د مهترلام – سرخکان سړک په اوږدو کې د ۲۴۳ زرو افغانيو په ارزښت د ۱۵۵ مترو په اوږدوالي سره د سړک غاړو لښتيو ترميمول، چې دا مهال يې کار بشپړ شوی دی.

د لغمان ولايت د ټولګټو رياست د ماشينرۍ په واسطه د ۱۴۰ کيلومتره سړک ترميم او پاک کاري کول.

**هلمند:**

د هلمند ولايت له ملنګ کاريز څخه تر ګرشک ولسوالۍ پورې د ۳٦ کيلومتره سړک او ۱۸ پايو پُلګوټو ترميم او بيارغونه، د څه باندې ۵,۹ ميليونه افغانيو په ارزښت، چې دا مهال يې کار داوم لري.

د ټولګټو رياست د پرسونل او ماشينرۍ پرمټ د ۱۷۵ مترو په اوږدوالي سره د څلور پايو پُلونو ترميمول.

د ټولګټو رياست په وسايطو او مشينرۍ د ۱۰۰ متره استنادي ديوال ترميمول.

**نورستان:**

د قرادادي شرکت لخوا په دغه ولايت کې د څه باندې ۷ سوه زره افغانيو په ارزښت د کوردر په نوم د يوه پايه ۱۵ پُل ترميمول، چې دا مهال يې کار بشپړ شوی دی.

د کامديش ولسوالۍ اړوند د ميرديش ٦۵۰ متره اوږد سړک ترميم.

**کونړ:**

د شلتن او شيګل ولسواليو تر منځ پر کونړ سيند د ۱۰ ميليونه ډالرو پر ارزښت د يوه پايه ۱۰۲ متره وسپنيز استحکامي پُل جوړل.

په پيچ دره ولسوالۍ کې د ۳,۵ ميليونه افغانيو په ارزښت د وړيګرام په نوم د ۳۵ متره استحکامي پُل جوړل.

د ناړۍ – بريکوټ ولسوالۍ په اوږدو کې د څه ۸،۴ ميليونه افغانيو په ارزښت د ۱۰۰ متره استنادي ديوال رغول.

په نورګل ولسوالۍ کې د زیړي بابا په سیمه کې د ۸ میلیونه ډالرو په ارزښت د یوه پایه ۸۰ متره پُل رغونه، چې دا مهال یې کار دوام لري.

د ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت د آسمار – غازي آباد ۲۰ کیلومتره سړک د ترمیم قرارداد، چې دا مهال یې کار بشپړ شوی دی.

**سمنګان:**

د سمنګان ولایت د ایبک – پلخمري لویي لارې په اوږدو کې د ٦،۴ میلیونه افغانیو په ارزښت ۱۴۳ مترو په اوږدوالي سره د ۳ پایو پُلونو د ترمیم او بیارغونې قرارداد، چې دا مهال یې چارې بشپړې شوي دي.

د یوه پایه ۹۸ متره پُل ترمیم او بیارغول، د۲۹۰ زره افغانیو په ارزښت.

د ټولګټو ریاست شته ماشینرۍ په واسطه د ۱۱۰ کیلومتره سړک ترمیم او بیارغونه.

له رسوبي موادو څخه د شته ماشینرۍ په واسطه د ۲۰ کیلومتره سړک پاک کاري کول.

**غزني:**

د ټولګټو ریاسته له شته ماشینرۍ څخه په استفادي سره د ۵۴ کیلومتره سړک ترمیم او جغل اندازي، چې دا مهال یې کار بشپړ شوی دی.

د ۱۵ کیلومتره سړک د ترمیم او جغل اچوني کار د اسلامي امارت لخوا خلکو ته د د غنمو په بدل کې جریان لري.

**بامیان:**

له رسوبي مواد څخه د ۵ کیلومتره سړک د پاکولو کار د ټولګټو ریاست د شته ماشینرۍ په واسطه دوام لري.

د ۹ میلیونه افغانیو په ارزښت د بیلابیلو ولسوالیو د ۳۳۹ کیلومتره سړک واورې پاک کاري شوې دي.

**ننګرهار:**

د ننګرهار – کونړ پر مسیر د کډي په نوم د ۲۰ متره پُل د لاندیني فرش ترمیم او د کابل – جلال آباد په مسیر د سرخ آب پل لپاره د ۱۷۰ متره استنادي دیوال او بولډر ترمیم او بیارغونه د څه باندې ۴،۹ میلیونه افغانیو په ارزښت.

د ټولګټو ریاست د ماشیرنۍ په واسطه  له مملې باغ څخه تر حصارک ولسوالۍ پوري د ۴۸ کیلومتره سړک او ۲۷ پایو پُلګوټو ترمیم او جغل اچونه، چې دا مهال یې کار بشپړ شوی دی.

په تورخم بندر کې د ۱،٦٤ مترو په اوږدوالي سره د سړک رغونه.

**بلخ:**

د بلخ ولایت د ټولګټو ریاست له شته ماشینرۍ او پرسونل څخه په ګټې اخیستنې د دغه ولایت د شورتیپه، چمتال، مارمل ولسوالۍ کې د ټولټال ۷۳ کیلومتره سړک ترمیم او هموار کاري.

د ټولګټو ریاست د ماشینرۍ په واسطه د حیرتان بندر ۲۵ کیلومتره سړک او د مزارشریف – دره صوف ولسوالۍ ۵ کیلومتره سړک له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوي دي.

**تخار:**

د اشکمش – خواجه غار ۱۰ کیلومتره سړک او د ۳۵ متره ګبیوني دیوال د څه باندې ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت له شرکت سره قراداد شوي، چې دا مهال یې کار بشپړ شوی دی.

د ټولګټو ریاست د شته ماشینرۍ په واسطه ۳ کیلومتره سړک له رسوبي موادو څخه او ۹۲ کیلومتره سړک له واورو څخه پاک کاري شوی دی.

**بادغیس:**

د قراردادي شرکت لخوا د قلع نو – قادس ٦  کیلومتره سړک رغونه، چې دا مهال یې کار بشړ شوی دی.

د بادغیس ولایت د ټولګټو ریاست د شته ماشینرۍ پرمټ د دغه ولایت د بالامرغاب – غورماچ، قلع نو – سنګ اتش، بالامرغاب – قروطو کوتل او دهن پاساب – بالامرغاب سړکونه چې ټولیز اوږدوالی یې ۷٦ کیلومترو ته رسیږي ترمیم او جغل اندازي شوي دي.

همدارنګه د یاد ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د سبزک کوتل ۱۰ کیلومتره سړک له واورو څخه پاک کاري شوی دی.

**بغلان:**

د بغلان ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د شته ماشینرۍ څخه په ګټې اخیستنې سره د دغه ولایت په دهنه غوري ولسوالۍ کې د یوه پایه ۲۰ متره پُلګوټی چارې د قراردادي شرکت لخوا د څه باندې ۲٦۸ زره افغانیو په ارزښت بشپړ شوی دی.

په مرکز، اسکار کوتل او په دوه سړکه سیمه کې ۱۵ کیلومتره سړک ترمیم او هموار کاري شوی دی.

همدارنګه په ګڼو ولسوالیو کې د رسوبي موادو پاک کاري د ټولګټو ریاست د ماشینري لخوا تر سره شوي ده.

**پکتیکا:**

د دغه ولایت د ټولګټو ریاست لخوا په سروضې ولسوالۍ کې یوه پُل د ۲۰ مترو په اوږدوالي سره او په سروبي ولسوالۍ کې د مماتي پُل د ۶۰ مترو په اوږدوالي سره ترمیم شوي دي.

د ولایتي ریاست د ماشینرۍ په واسطه د سروضې او خوشامند ولسوالیو کې ۱۵ کیلومتره سړک ترمیم او هموار کاري شوی دی.

همدارنګه د ولایتي ریاست د ماشینرۍ په واسطه په بیلابیلو مسیرونو کې ۱۵۰ پایې پُلګوټي ترمیم شوي دي.

د ولایتي ریاست د ماشینرۍ په واسطه ۳۹۲ کیلومتره سړکونه له واورو څخه پاک کاري شوي دي.

**سرپل:**

له کورک مغول څخه تر خانقا ملکي پوري ۶،۷ کیلومتره سړک د ۱۸۷۱۰۶ ډالرو په ارزښت جغل اندازي او کار یې بشپړ شوی دی.

د سرپل ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د صیاد ولسوالۍ له ګردنه – د کمي بازار  تر مکتب پورې او له بلغي دوه لاري څخه د کوهستاناتو ولسوالۍ تر لغمان کلي پوري  غځېدلی سړک ترمیم او جغل اندازي شوي دی.

همدارنګه د ولایتي ریاست د ماشینرۍ په واسطه کوهستان ولسوالۍ له علف سفید سیمې څخه د کوهستان ولسوالۍ تر مرکز پوري د ۸۰ کیلومتره تخریب شوی سړک ترمیم او جغل اندازي شوی دی.

**اروزګان:**

د اروزګان ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د ترینکوټ – دهراود، ترینکوټ – کندهار، ترینکوټ – چورې، ترینکوټ چارچینو ۱۲۳ کیلومتره سړک پاک کاري شوي دي.

د خه باندې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت د قراردادي شرکت لخوا د ۲۳ پایو پلچکونو ترمیم او بیارغونه.

په چوره ولسوالۍ کې د ولایتي ریاست د پرسونل پرمټ د یوه پایه ۶ متره پلچک ترمیم او بیارغونه.

**پنجشير:**

د قراردادي شرکت لخوا د دواه آب ګولايي کټ کول او د سړک پراخول، د څه باندې ۴۸۸ زره افغانيو په ارزښت.

د ولايتي رياست د ماشينرۍ په واسطه د پنجشير په بيلابيلو برخو کې د ۱۲۰ کيلومتره سړک ترميم، پاک کاري او دوامداره حفظ او مراقبت ترسره کول.

د ولايتي رياست د ماشينرۍ په واسطه د ژمي په موسم کې د واورينو مسيرونو پاک کاري کول.

**زابل:**

۱ـ په زابل ولايت کې د کابل – کندهار لويې لارې اړوند د ٦٥ کيلومترو سړک د ميلينګ کاري قرارداد د څه باندې ٦ ميليونه افغانيو په ارزښت.

۲ـ د قلات - شينکي ولسوالۍ د سړک داغګيري او ترميم د څه باندې ٦ ميليونه افغانيو په ارزښت، د قراردادي شرکت لخوا.

۳ـ د ۱۵۵ مترو په اوږدوالي سره د ۵ پايو پلونو ترميم، د څه باندې ۱۵ ميليونه افغانيو په ارزښت.

۴ـ د شينکي ولسوالۍ پر مسير د مانده ۱۰۰ معبر ترميمول، د څه باندې ۲,۱ ميليونه افغانيو په ارزښت.

۵ـ د ولايتي رياست د پرسونل او ماشينرۍ لخوا د کابل – کندهار لويي لارې په اوږدو کې د ۱۸۰ متره سړک او ګڼو پلچکونو ترميم او جغل اندازي کول.

**لوګر:**

د لوګر د ولايتي رياست د ماشينري په واسطه د کابل – ګرديز، مرکز – خرخ، مرکز – برکي برک، خوشي – ازره، مرکز – خروار او خرخ – خروار ولسواليو ۲٦۰ کيلومتره غځېدلي سړکونه له واورو څخه پاک کاري شوي دي.

د ولايتي رياست د ماشينرۍ په واسطه د کابل – ګرديز، د برکي برک ولسوالۍ او خرخ ولسواليو ۱۰ کيلومتره سړکونه له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوي دي.

## جوزجان:

د ټولګټو ریاست لخوا د شبرغان – مزارشریف او شبرغان – آقچه ولسوالۍ اسفالټ ۲۳۷ کیلومتره سړک ترمیم او پینه کاري شوی دی، چې دا مهال یې کار بشپړ شوی دی.

د ۱۴۶ مربع په اندازه او د ولسوالۍ سړک د ۹۱ مربع په اندازې سره ترمیم او پینه کاري شوي دي.

د ولایتي ریاست د ماشینرۍ پر مټ د شبرغان – سرپل ۱۲٦ متره مربع سړک او د شبرغان – قوشتپه ۱۰۰۰ متره سړک ترمیم او جغل اندازي شوي دي همدارنګه د شبرغان په سپل کې یوه پایه پُلګوټۍ ترمیم شوی دی.

## بدخشان:

د قراردادي شرکت لخوا په سبزي بهار او قمره کمر سیمو کې د ۲۰۲ متره سړک د تحکیم کاري پروژه، د ٦۹۰ زره افغانیو په ارزښت.

د خاش ولسوالۍ ۲۱ کیلومتره سړک ترمیم، د ۱,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت، د راغ ولسوالۍ د ۱۳ کیلومتره نوي سړک احداث، د درایم ولسوالۍ د ۳۱ کیلومتره جغلي سړک احداث، چې ټولیز اوږدوالی ډول یې ٦۵ کیلومترو ته رسیږي د څه باندې ۳۳,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت.

د کشم – فیض اباد، فیض اباد – بهارک او د شهر بزرګ ولسوالۍ سړک چې ټولیز اوږدوالی یې ۲۱۰ کیلومترو ته رسیږي د ولایتي ریاست د ماشینرۍ په واسطه له رسوبي موادو څخه پاک کاري شوي دي.

## نیمروز:

د نیمروز ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د دغه ولایت د زرنج – دلارام ۱۱ کیلومتره لویې لار او د کمال خان بند پر مسیر د چهار برجک ولسوالۍ یو کیلومتره سړک له شګو او ریګونو څه پاک کاري شوي دي.

همدارنګه ددغه ولایت ډیری سړکونه په راتلونکي د جوړولو په موخه سروې او ډیزان شوي دي.

## کاپیسا:

د ولایتي ریاست لخوا د جبل السراج – سروبي د ۱۱ کیلومتره سړک ترمیم او جغل اندازي.

د ولایتي رایاست د ماشینرۍ په واسطه د جبل السراج – سروبي ولسوالۍ د سړک په اوږدو کې د ۴ پایو پُلګوټو ترمیم او بیارغول.

د جبل السراج – سروبي سړک په اوږدو کې د ۴۴ متره په اوږدوالي سره د یوه پایه پُل د ۴,۸ میلیونه افغانیو په ارزښت ترمیم شوی دی.

**فاریاب:**

د فاریاب ولایت د ټولګټو ریاست لخوا د دغه ولایت د میمنه – شرین تګاب ولسوالۍ اسفالټ سړک ترمیم او او د نمبر یو او نمبر دوه شاهراه د وسپنیزو کټارو ترمیم.

د میمنې – قیصار سړک پر اوږدو کې د ظهور او چیچکتوی په سیمه کې د ۵۰ متره استنادي دیوال رغول، د څه باندې ۱,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت.

**خوست:**

د قراردادي شرکت لخوا د دوه منده، سپېري، اسماعیل مندوزی ولسوالیو کې د ۱۵ کیلومتره سړک او ۱۰۰ متره پُل د څه باندې ۵,۵ میلیونه افغانیو په ارزښت ترمیم شوي دي.

**کابل:**

د ولایتي ریاست د ماشینرۍ په واسطه د ۱۵۰ متره سړک او د ۱۰ کیلومتره سړک شولډرونو ترمیم د څه باندې ۲ میلیونه افغانیو په ارزښت.

**فراه:**

د پشت رود – فراه سړک پر مسیر د ۴ پایو پُلګوټو ترمیم، د څه باندې ۸۰۰ زره افغانیو په ارزښت.

د بکواه ولسوالۍ ۱۰ کیلومتره سړک د څه باندې ۹۰ زره افغانیو په ارزښت.

د پرچمن د ۸۰ کیلومتره سړک برف پاک کې د څه باندې ۷۱۰ زره افغانیو په ارزښت.

**کندوز:**

د شیرخان بندر په بازارک سیمه کې د یوه پایه پُلګوټي ترمیم، د څه باندې ۳۰۰ زره افغانیو په ارزښت.

په علي اباد او خان اباد ولسوالیو کې د معبرونو ترمیم، د څه باندې ۴۰۰ زره افغانیو په ارزښت.

**میدان وردګ:**

د کابل – میدان ښار د ۸ کیلومتره سړک ترمیم، د څه باندې ۴۸ میلیونه افغانیو په ارزښت

د دایمیرداد – چک ۱۲ کیلومتره سړک ترمیم د څه باندې ۳ میلیونه افغانیو په ارزښت.

**پکتیا:**

د کابل – گردیز سړک پر مسیر په تیره کوتل کې د ۲۵۵ متره اوږد ګبیوني دیوال جوړول، د څه باندې ۱ میلیونه افغانیو په ارزښت.

**د سالنگونو د ساتنې او څارنې ریاست:**

د ټولګټو وزارت د سالنګونو د ساتنې او څارنې ریاست لخوا د اسلامي امارت له بریا تر دا مهاله لاندې کړنې تر سره شوي دي:

۱ـ د شمالي سالنګ او جنوبي سالنګ د ۳۰ کیلومتره سړک ترمیم د څه باندې ۵۳ میلیونه افغانیو په ارزښت.

۲ـ د بابه مردان د پُل ترمیمول د څه باندې ۴ میلیونه افغانیو په ارزښت.

۳ـ د سالنګونو د ساتنې او څارني ریاست د ماشینرۍ په واسطه د ۱۰ کیلومتره سړک ترمیم.

۴ـ د تونل دننه د تخنیکي سیستم او د لایټونو د تنویر سیستم فعالول.

۵ـ د ژمي په موسم کې د برف پاکي عملیاتو ترسره کول او همدارنګه له سیلابي موادو څخه د سړک پاکول.